# بادام : ځاګـه پرېکول \اسمبالول

ټيليفون: 977-758-0799 برېښناليك:javid.hamidzada@rootsofpeace.org

### ځنګـه پريکول او سمبالونه څه ته وايي؟

سمبالول د ځاګـې پريکولو يو ډول دی چې د ونې د پريکولو او ترلو څخه په کېګښه اخستل کيږي، ترڅو يوې ونې ته په زړه پوري ډول وده ورکړو.

### ونې ولې پرېکېږي او سمباليږي؟



د بادامو د ځاګـو پرېکول چې سره تيرې بيرې ځاګـې لري شي. (تصويرUC IPM)

- ونې دا ډول سمباليږي چې ځواکمنې شي او داسي پراخې شي چې د خستو د ډير حجم او عالي کيفيت و زغملاي شي.
- د ونو سمبالو د ونې چترې پراخوي چې د رڼا نفوذ اعظمي او د هوا کافپ چليدو ته اجازه ورکوي.
- ښې سمبال شوې ونې د ځانکو پريکولو اړتيا حداقل ته رسوي

### ځاګـه پرېکول او سمبالول څه ډول ترسره کيږي؟

- بادام په معمول ډول سمباليږي يا شکل ورکول کيږي، او هغه داسي چې مرکز يې د ۴-۳ غنچو(يا جانبي ځاګـو) په واسطه چې د مرکزي ساقي څخه منشه اخلي، پرانستی پرېښودل کيږي. کومه مرکزې لارښوده ځاګـه نه وې موجوده.
- ځاګـې بايد د ۶۰-۴۵ درجو پوري سره پراخې وې- لکه څنګـه چې افقي ځاګـې کله چې تربار لاندي شي نو ماتيدو ته ډير ميلان لري.
- ترټولوښکته يا د چوکاټ ځاګـې بايد د ځمکې څخه ۸۰-۶۰ سانتيميټره لوړې وي.
- که چيري د ۳ څخه لږې د چوکاټ ځاګـې موجودې وي، نو بيا ونه داسي پريکړې چې مرکزي ځاګـه پيدا کړي، او د اړخونو ځاګـې يې پرې کړي ترڅو د نويو ځاګـو وده و هڅول شي
- د ونې د چوکاټ د ځاګـو سرونه (څوکې يې لرې شې) کيداي شي چې د ژمني خوب پرمهال غوڅ شي ترڅو د اړخونو ځاګـې وده وکړي.

### ځاګـه پرېکول او شکل جوړل (سمبالول) څه وخت ترسره کيږي؟

- ونې د کښېنول په لومړيو پنځو کلونو کې سمبالي کړئ او د سمبالول بې مخکې له دې چې د خستو اندازه يې سونګـريزې کچې ته ورسيږي، بشپړ کړئ.
- سمبال يا شکل جوړول وروسته د ودې د لومړني موسم څخه پيل کيږي

### نمګـړې پرې او سمبال شوې ونې

ناوړه سمبال شوې ونېښايي ډيرې نيغې او يا افقي ځاګـې ولري، چې د ميوې د زيات حاصل په نتيجه کې ماتيدو ته مساعديږي او د ميوو نيولو توان بې کميږي . په بديله توګـه ناوړه پرې سمبال شوې ونې متصالبه (تيرې بيرې) ځاګـې درولودی شي چې عمليات نور هم ستونځمن کوي

**د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت**

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، دبڼوالۍ د پرمختيا پرګـرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندي چمتو شوې. کابل‌ټيليفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org
ددې خپروني د محتوي مسؤليت په بشپړه توګـه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګـندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي‌ټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي